امارت اسلامی افغانستان
اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث
ریاست اطلاعات و ارتباط عامه



# هفته نامه مدیریت حوادث

۲۵ الی ۳۰ حوت ۱۴۰۳

شماره صدم

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست په شکردره ولسوالۍ کې د استنادی دیوال د جوړولو کار پرانست



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست، الحاج ملا نورالدین ترابی، د اطلاعاتو او عامه د اړیکو رئیس حافظ محمد یوسف حماد، او د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ د رئیس مولوی نجیب‌الله انوری په ملتیا شکردرې ولسوالۍ ته سفر وکړ او په غازه کلی کی یې د استنادی دیوال د جوړولو کار د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۱۶ نیټه پرانست.

ترابی صاحب د دې پروژې د پرانستنې په مراسمو کې، چې د سیمې د مسؤولینو او خلکو په حضور کې ترسره شول، وویل چې د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه‌الله) د فرمان له مخې، د هېواد په ټولو ولایتونو کې د طبیعی پېښو د خطرونو...

ادامه در صفحه۲

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې، د ډنمارک سره صلیب او د سره صلیب نړیوال فدراسیون ترمنځ تخنیکی غونډه ترسره شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې، د ډنمارک سره صلیب او د سره صلیب نړیوال فدراسیون ترمنځ تخنیکی غونډه، د نړیوالو اړیکو سرپرست رئیس، برهان‌الدین خان، د پلان او پالیسۍ رئیس، مولوی محمد جاوید عباس...

ادامه در صفحه۲

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د معلوماتو د مدیریت او د ماین پاکۍ د پروګرامونو نړیوالې موسسې (IMMAP) ترمنځ د ۵ میلیونه ډالرو په ارزښت تفاهم نامه لاسلیک شوه




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی، د معلوماتو د مدیریت او د ماین پاکۍ د پروګرامونو نړیوالې مؤسسې د عملیاتی چارو مدیر غلام حیدر فیضی او د یاد مدیریت کارمند عبدالفتح اسحاقزی...

ادامه در صفحه۳

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د اطلاعاتو او عامه اړیکو نوی رئیس وټاکل شو

حافظ محمد یوسف حماد له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د سرپرست په وړاندیز او د افغانستان اسلامی امارت د ریاست الوزراء عالي مقام د حکم پر بنسټ، د یادې ادارې د اطلاعاتو او عامه اړیکو د رئیس په توګه...

ادامه در صفحه ۳

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست په شکردره ولسوالۍ کې د استنادي دیوال د جوړولو کار پرانست



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست، الحاج ملا نورالدین ترابی، د اطلاعاتو او عامه د اړیکو رئیس حافظ محمد یوسف حماد، او د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ د رئیس مولوی نجیب‌الله انوری په ملتیا شکردرې ولسوالۍ ته سفر وکړ او په غازه کلی کی یې د استنادی دیوال د جوړولو کار د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۱۶ نیټه پرانست.

ترابی صاحب د دې پروژې د پرانستنې په مراسمو کې، چې د سیمې د مسؤولینو او خلکو په حضور کې ترسره شول، وویل چې د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه‌الله) د فرمان له مخې، د هېواد په ټولو ولایتونو کې د طبیعی پېښو د خطرونو د کمولو لپاره، هر ولایت ته د یو میلیون افغانیو په ارزښت بودجه ځانګړې شوې ده. دا بیړنۍ وقایوی پروژې به له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې له لوری پلی کېږی.

نوموړی زیاته کړه چې د کابل ولایت په هره ولسوالۍ کې به هم کوچنی کوچنی وقایوی پروژی پلې شی. همداراز، هغه ټینګار وکړ چې دا استنادی دیوال د خلکو د اړتیاوو په پام کې نیولو سره جوړېږی او د سېلابونو له خطرونو څخه د مسجد، هستوګنیزو کورونو او کرنیزو ځمکو د ساتنې لپاره به مهم رول ولوبوی.

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست وویل چې دا استنادی دیوال به د ۸۵ مترو په اوږدوالی جوړ شی او د دې پروژې په بشپړېدو سره به د سیمې اوسېدونکی د احتمالی سېلابونو له خطر څخه خوندی پاتې شی. نوموړی همداراز وویل چې د دې پروژې د دوامداره څارنې لپاره یوه پلاوی به راځی او څارنه به یې کېږی، ترڅو د کیفیت او مطلوبې پایلې ډاډ یې ترلاسه شی.

له بلې خوا د شکردرې ولسوال قاری فدا محمد فدایی، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې له سرپرست او د کابل ولایت له پېښو سره مبارزې آمادګۍ ریاست څخه د خلکو غوښتنو ته د پاملرنې او پر وخت اقداماتو له امله مننه وکړه.

په پای کې، د سیمې خلکو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست څخه د دوی د ستونزو د حل لپاره د پاملرنې له امله مننه او قدردانی وکړه.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې، د ډنمارک سره صلیب او د سره صلیب نړیوال فدراسیون ترمنځ تخنیکی غونډه ترسره شوه




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې، د ډنمارک سره صلیب او د سره صلیب نړیوال فدراسیون ترمنځ تخنیکی غونډه، د نړیوالو اړیکو سرپرست رئیس، برهان‌الدین خان، د پلان او پالیسۍ رئیس، مولوی محمد جاوید عباس، په افغانستان کې د ډنمارک د سره صلیب مسئول، محمد الشمعه، د ډنمارک سره صلیب د پروګرامونو مسئول، احمد ولی، د سره صلیب نړیوال فدراسیون عملیاتی مسئول، سیامک حارث او یو شمېر تخنیکی کارکوونکو په شتون کې د دې ادارې په انګړ کې د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۱۷ نیټه ترسره شوه.

د دې غونډې موخه، په افغانستان کې د پېښو مدیریت لپاره د اروپایی ټولنې د ملاتړ او مرستو جلبولو د پروپوزل ترتیبول و.

په دې غونډه کې، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې استازو د خپلې ادارې د فعالیتونو، لاسته راوړنو، پروګرامونو، ستراتیژیو، پلانونو او کاری برخو په اړه معلومات وړاندې کړل او د بېړنیو حالاتو او پېښو مدیریت په برخه کې یې د همکاریو پر دوام ټینګار وکړ.

ورپسې، د ډنمارک سره صلیب او د سره صلیب نړیوال فدراسیون استازو د نږدې همکاریو لپاره چمتووالی وښود او د پېښو د مدیریت په برخه کې یې د یادې ادارې پر ملاتړ ټینګار ورکړ.

د غونډې په پای کې، دواړو خواوو د بېړنیو حالاتو په ترڅ کې د لا ډېرو همکاریو او همغږۍ، د پروپوزل د نسخې تبادلې او نورو اړوندو موضوعاتو پر سر موافقه وکړه.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د معلوماتو د مدیریت او د ماین پاکۍ د پروګرامونو نړیوالې موسسې (IMMAP) ترمنځ د ۵ میلیونه ډالرو په ارزښت تفاهم نامه لاسلیک شوه




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی، د معلوماتو د مدیریت او د ماین پاکۍ د پروګرامونو نړیوالې مؤسسې د عملیاتی چارو مدیر غلام حیدر فیضی او د یاد مدیریت کارمند عبدالفتح اسحاقزی د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۱۷ نیټه سره وکتل.

ترابي صاحب راغلی پلاوی ته د ښه راغلاست ترڅنګ وویل، چې افغانستان هغه هیواد دی چې د طبیعي او غیر طبیعي پېښو له ګواښ سره مخ دی او مونږ غواړو چې د وقایوي پروژو په برخه کې ډېر کار وکړو، ځکه وقایه کولای شي چې په کم مصرف خلک د ډېر زیان څخه وژغوري.

ترابي صاحب وویل، چې په ۳۴ ولایتونو کې مو له خطر سره مخ سیمې معلومې کړې دي او غواړو چې د خطر مخنیوی وکړو ترڅو خلکو ته زیان ونه رسیږي همداراز یې وویل چې موږ تل د کارونو چټکتیا او شفافیت ته ژمن یو.

وروسته د (IMMAP) نړیوالې مؤسسې راغلي پلاوی د یادې ادارې د سرپرست څخه ځانګړې مننه وکړه، چې تر بل هر وخت اوس مؤسسې لیواله دی، چې د یادې ادارې سره همکاری وکړی او موږ هم غواړو چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سره همکاری وکړو.

همداراز، د عملیاتي چارو مدیر ښاغلی فیضی وویل، چې یادې موسسې په ۲۰۱۰ کال کې فعالیت پیل کړی دی چې د معلوماتو د مدیریت او د پېښو خطرونو کمولو په برخه کی کار کوی.

یاده تفاهم نامه چې د ۵ میلیونه ډالرو په ارزښت لاسلیک شوه، په ۵ مهمو برخو کی به فعالیت کوی، ۱ بشردوستانه ارقامو مکانی مرکز پلټفورم ۲ د معلوماتو د مدیریت ملاتړ ۳ نقشه جوړونه او کارتوګرافي ۴ تر ناورین مخکې خبرتیا او غبرګون ۵ اقلیمی انطباق په اړه د اړیکو د ملاتړ په برخو کی به د یادې ادارې او نورو مؤسسو سره همکاری کوی.

د غونډې په پای کې د داوړو لورو لخوا تفاهم نامه لاسلیک سوه.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د اطلاعاتو او عامه اړیکو نوی رئیس وټاکل شو

حافظ محمد یوسف حماد له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د سرپرست په وړاندیز او د افغانستان اسلامی امارت د ریاست الوزراء عالي مقام د حکم پر بنسټ، د یادې ادارې د اطلاعاتو او عامه اړیکو د رئیس په توګه د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۱۵ نیټه وټاکل شو.

په همدې مناسبت جوړه شوې غونډه کې، نوموړی د مقام د دفتر رئیس مولوی فضل‌باري جواد او د مقام د دفتر د انسجام او همغږۍ آمر عبدالرب مبارک لخوا کارکوونکو ته معرفي شو او رسماً یې خپل کار پیل کړ.

د مقام د دفتر رئیس، اداری بدلونونه او تبدیلی په امارتي ادارو کې یو اصل وباله او حافظ محمد یوسف حماد ته یې د اطلاعاتو اوعامه اړیکو د رییس په توګه د نوې دندې مبارکی وویله. نوموړی ټینګار وکړ چې یاده اداره د امارت په چوکاټ کې د پېښو وقایه، د خطرونو کمولو، زیانمنو ته رسېدنه او د بیا رغونې په برخو کې د فعالیتونو د همغږۍ او انسجام مسؤلیت لری. همداراز، هیله یې څرګنده کړه چې د اطلاعاتو او عامه اړیکو د نوی رئیس په شتون سره به د دې برخې فعالیتونه لا اغېزناک شی.

وروپسې، حافظ محمد یوسف حماد د افغانستان اسلامی امارت د مشرتابه او له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د سرپرست له باور څخه مننه وکړه او ژمنه یې وکړه چې خپلې دندې به په پوره همکارۍ او مسؤلیت سره ترسره کوی.

همداراز، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د سرپرست په لارښوونه، تاج محمد همت د اطلاعاتو او عامه اړیکو د آمر، او عطا محمد معمارزاده د عامه پوهاوی د ویډیوګانو جوړولو د عمومی مدیر په توګه وټاکل شول.

## له پېښو سره د مبارزې امادګۍ ملي ادارې سرپرست د رئیسانو او مرکزي کارکوونکو د کمپیوټري برنامو د ظرفیت لوړونې له بهیر څخه څارنه وکړه

محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست، د دغې ادارې د رئیسانو او مرکزي کارکوونکو لپاره د کمپیوټري برنامو د ظرفیت لوړونې له بهیر څخه چې درې میاشتې مخکې پیل شوی و، د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۱۵ نېټه څارنه وکړه.

محترم ترابی صاحب درې میاشتې مخکې یوه ځانګړې کمیټه ټاکلې وه، ترڅو د ادارې د رئیسانو او کارکوونکو د کمپیوټري برنامو د استفادې کچه وارزوي، او هغه مسئولین چې اړتیا یې لرله، د کمپیوټر مرکز ته چې له اوږدې مودې وروسته بېرته فعال شوی و، ور معرفي شوي ول، نن د درې میاشتنی زده‌کړیز بهیر تر بشپړېدو وروسته، د هغوی ارزونه په ریاست وار ډول د خپل دفتر په کچه وکړه.

د ادار ې سرپرست ټینګار وکړ چې په نننۍ نړۍ کې د کمپیوټر کارونه د ادارې د چارو د پرمخ وړلو او پر وخت د خدماتو وړاندې کولو لپاره ډېر اړین دی، او باید هر کارکوونکی د خپلې دندې له مخې دا مهارتونه زده کړي، ترڅو کارونه په چټک او منظم ډول تر سره شي.

---

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د افغانستان د ښځو بنسټ ترمنځ د ۱۴۲,۴۵۴ ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابي، د افغانستان د ښځو بنسټ له سرپرست رئیس عبدالجبار یوسفی سره د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۱۷ نېټه په خپل کاري دفتر کې وکتل.


ترابي صاحب، د یاد بنسټ راغلی پلاوی ته د ښه راغلاست ترڅنګ وویل، چې خوښ یو چې زیانمنو کورنیو ته د روژې په مبارکه میاشت کې مرستې وېشل کېږي او د دې بنسټ د ټول کاري ټیم څخه یې مننه وکړه چې زموږ د ځوربېدلی ولس سره همکاري کوي.

نوموړي زیاته کړه، چې یاد بنسټ باید ژر تر ژره زیانمنو کورنیو ته مرستې ورسوي تر څو د روژې په مبارکه میاشت کې د مرستو څخه برخمنې شي.

ورپسې، د افغانستان د ښځو بنسټ سرپرست رئیس عبدالجبار یوسفی وویل، چې غواړو افغان ولس ته د بېلابېلو لارو څخه مرستې برابرې کړو او پرمستحقو کسانو یې ووېشو.

د یادونې وړ ده، چې یاده تفاهم نامه چې لاسلیک شوه د ۱۴۲,۴۵۴ (یو سل او دوه څلوېښت زره او څلور سوه څلور پنځوس) ډالرو په ارزښت به د بغلان ولایت په برکۍ ولسوالی کې ۱۰۰۰ سیلاب ځپلو کورنیو ته خوراکی توکی ووېشل شي، په دې توګه، چې هرې کورنۍ ته به د ۱۲۰ ډالرو په ارزښت یوه بوجۍ ۵۰ کیلویی اوړه، یوه بوجۍ ۲۴،۵ کیلویی وریجې، ۱۰ لیتره غوړي، ۷ کیلو لوبیا، دوه پاکټه مالګه، ۱ کیلو خرما، ۱ کیلو شین چاي او ۷ کیلو بوره وېشل کېږي.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د اړمنو خلګو نړیوالې مؤسسې ترمنځ د ۲۶۶,۷۸۶ ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی صاحب د اړمنو خلګو نړیوالې مؤسسې د مرستیال احسان الله نعیم سره د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۱۸ نیټه وکتل.
ترابی صاحب، د یادې مؤسسې مرستیال ته د ښه راغلاست ترڅنګ وویل، چې په ډېرو ولایتونو کی زیانمنې کورنۍ شتون لری چې مرستو ته جدی اړتیا لری او باید ټولې مؤسسې او سازمانونه خپلې مرستې ورسره وکړی ترڅو د روژې په مبارکه میاشت کې زیانمنې کورنۍ د مرستو څخه برخمنې شی.
همدارنګه ترابی صاحب د یادې موسسې له پلاوی څخه مننه وکړه، چې تل یې د زیانمنو کورنیو سره بېلابېلې مرستې کړی او باید خپلې مرستې د افغان ولس سره جاری وساتی او د مرستو رسولو د بهیر پر چټکتیا یې ټینګار وکړ.

ورته مهال، د اړمنو خلګو نړیوالې مؤسسې مرستیال احسان الله نعیم د یادې ادارې د سرپرست څخه ځانګړې مننه وکړه، چې پر وخت یې کارونه ترسره شوی دی او په کارو کې یې چټکتیا رامنځته کړې ده او ژمنه یې وکړه چې ډېر ژر به مرستې تر اړمنو کورنیو ورسوو.
د یادونې وړ ده، چې یاده تفاهم نامه چې د ۲۶۶,۷۸۶ ډالرو په ارزښت لاسلیک شوه، د کابل او میدان وردګ ولایتونو کې به ۲,۶۷۶ اړمنو کورنیو ته نغدی مرستی ویشل کیږی، چی ۱۰۷۱ کورنیو ته د کابل ولایت په ده سبز ولسوالۍ کې او ۱۶۰۵ کورنیو ته د میدان وردګ ولایت په چک ولسوالۍ کې هرې کورنۍ ته به ۷۴ آمریکایی ډالره ورکړل شی.

---

## آغاز ساخت تعمیر اداری ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت سمنگان



کار ساخت تعمیر جدید ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت سمنگان، با هزینه ۱۳ میلیون افغانی و با حضور رئیس دفتر مقام ولایت سمنگان، مولوی احسان‌الله احسان، رئیس آمادگی مبارزه با حوادث، احمدشاه ذهین، آمر تدارکات اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، و مقامات ادارات ذیربط، بتاریخ ۱۶ رمضان سال ۱۴۴۶ ه ق رسماً آغاز شد.
مولوی احمدشاه ذهین، آمر تدارکات اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، اظهار داشت که این تعمیر در مساحت ۳۴۶ متر مربع، در سه طبقه و مطابق با معیارهای اساسی ساخته خواهد شد و انتظار می‌رود طی شش ماه آینده تکمیل و به بهره‌برداری سپرده شود.
در ادامه، مولوی احسان‌الله احسان، رئیس آمادگی مبارزه با حوادث ولایت سمنگان، تأکید کرد که از آغاز تا تکمیل این پروژه نظارت دقیق خواهد داشت تا ساختمان مطابق با استانداردهای لازم احداث گردد.
در همین حال عبدالمنان قادریار، مدیر مالی و اداری این ریاست، با ابراز خرسندی از آغاز این پروژه گفت که ریاست آمادگی مبارزه با حوادث تا اکنون تعمیر مستقل نداشته و فعالیت‌های خود را در ساختمان‌های کرایی انجام می‌داد. وی افزود که با احداث این تعمیر، تسهیلات اداری بهبود یافته و روند کاری این اداره با سهولت و کیفیت بهتری ادامه خواهد یافت.

# له پېښو سر د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او په افغانستان کې د سره صلیب نړیوالې کمېټې ترمنځ د ماینونو قرباني شویو د معلوماتو د ثبتولو ډیټابیس جوړولو لپاره د ګډو همکاریو تړون لیک لاسلیک شو



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی، په افغانستان کې د سره صلیب نړیوالې کمېټې له رئیسې مېرمن کاتاریتا ریتز، د رئیسې سلاکار عزت ګل او د ناچاودو توکو برخې د همغږۍ مسؤول، فریډرک ماری فاوست سره د ماین پاکۍ د انسجام او همغږۍ رئیس، قاری نورالدین رستم خېل او د دې ادارې د نړیوالو اړیکو رئیس مولوی عبدالرحمن رحمانی په شتون کې د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۱۹ نیټه وکتل او د ګډو همکاریو تړون لیک یې ورسره لاسلیک کړ.
په دې ناسته کې، ښاغلی ترابی صاحب د سره صلیب پلاوی ته د ښه راغلاست ویلو ترڅنګ وویل، چې زه د سره صلیب له ټولو اصولو سره آشنا یم، او دې کمېټې له پخوا څخه تر نن پورې د افغانستان له خلکو سره پراخې مرستې کړې دی او موږ له دوی مننه کوو.

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست همداراز د سره صلیب له نړیوالې کمېټې د ماین پاکۍ په چارو کې د همکارۍ له امله مننه وکړه او ویې ویل، چې ماین پاکی د دې ادارې له اساسی دندو څخه ده، او موږ باید نړدې همکارۍ ولرو او د خلکو د خدمت لپاره د یو بل له امکاناتو ګټه واخلو. نوموړی همداراز له دوی وغوښتل چې د دې ادارې په تخنیکی کمېټه کې، چې له مؤسسو سره په ګډه جوړه شوې، ګډون وکړی، هغه ټینګار وکړ چې دا کمېټه باید نه یوازې د ماین پاکۍ، بلکې داخلی اصولو ته په کتو په نورو برخو کې هم د دې ادارې سره همکاری وکړی.
په همدې حال کې، په افغانستان کې د سره صلیب نړیوالې کمېټې رئیسې، مېرمن کاتاریتا ریتز، د ترابی صاحب له لوری د دې ملاقات د زمینې برابرولو له امله مننه وکړه او ویې ویل، چې زه د دې ادارې د ماین پاکۍ فعالیتونه له نږدې څارم او دې پایلې ته رسېدلې یم چې دا برخه په خپلو چارو کې ښې لاسته راوړنې لری.
د سره صلیب رئیسې وویل، زموږ د کار اساسی موخه د ماین قربانیانو ته رسېدنه ده، او د دوی شخصی معلومات باید داسې شریک او ثبت شی چې حقوقی مسؤولیت ونه لری. نوموړې زیاته کړه چې د دې کمېټې تخنیکی ټیم به له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې ته معرفی کړی، ترڅو معلومه شی چې موږ له دی ادارې سره په کومو برخو کې همکاری کولای شو.
د یادونې وړ ده، چې د دغه تړون لیک له مخې، د سره صلیب نړیواله کمېټه به د ماین پاکۍ د انسجام او همغږۍ ریاست سره نږدې او دوامداره اړیکې ولری، او د ماینونو او ناچاودو توکو د قربانیانو ټول شخصی معلومات به، د پېښې د وخت او ځای سره یو ځای، دې ریاست ته وسپاری او دغه ریاست به یاد معلومات د IMSMA معلوماتو مدیریت سیستم کې په راتلونکې کې د کارولو لپاره ذخیره کوی.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې اوونیزه اداری غونډه ترسره شوه

د وزیرانو شورا د ۱۴۴۳/۵/۱۶نېټې د (۱۵) ګڼې مصوبې د ۱ مادې پر بنسټ، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې اوونیزه اداری غونډه د دې ادارې د سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی په مشرۍ او د مرکزی رئیسانو په ګډون د دې ادارې په انګړ کې د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۲۰ نیټه ترسره شوه.
غونډه د قران کریم د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه.
وروسته د اجنډا په هره موضوع په جلا جلا ډول هر اړخیزه بحث وشو او د غونډې د ګډونوالو نظرونه په وار سره راټول شول.
د غونډې په پای کې  داجنډا پر ټولو موضاعوتو باندی لازم تصمیمونه ونیول سول.

## د بامیان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۱۰۰ زیانمنونکو او اړمنو کورنیو ته نغدي مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د CWSA موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د بامیان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالی ملاتړ، د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۱۵ نیټه د یکاولنګ ولسوالۍ ۱۱۰۰ زیانمنونکو او اړمنو کورنیو ته چې مخکې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست سره په همغږۍ سروې او تثبیت شوی وې، نغدی مرستې ووېشلې.

د یادونې ده چې، په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته ۲۸۶۰ افغانۍ ووېشل شوې چې ټولټال ۳،۱۴۶،۰۰۰ (۳ میلیونه او ۱۴۶ زره) افغانۍ نغدی پیسې د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوی وې.

همدرانګه په پام کې ده چې په راتلونکې میاشت کې به هم یاد شمېر کورنیو ته د CWSA موسسې لخوا ژمنۍ نغدی مرستې ووېشل شی.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت هرات برای ۵۰ خانواده آسیب‌دیده کمک‌های خوراکی و غیر خوراکی توزیع نمود

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت هرات، برای ۵۰ خانواده که از اثر سرازیر شدن سیلاب‌ها اخیر در ولسوالی اوبه آسیب‌دیده بودند، بعد از سروی کمک‌های خوراکی و غیرخوراکی بتاریخ ۱۵ رمضان سال ۱۴۴۶ ه ق توزیع کرد.

در این پروسه با حضور مسوولان به هر خانواده یک باب خیمه، ۵۰ کیلو آرد، ۲۵ کیلو برنج و یک بسته پلاستیکی آشپزخانه و از طرف ریاست جمعیت هلال احمر افغانی به هر خانواده ۷ تخته کمپل توزیع گردید.



## د پروان ولایت سیاګرد ولسوالۍ د تیخان درې او یخدرې سړک د پاکولو کار پیل شو

د پروان ولایت سیاګرد ولسوالۍ د تیخان درې او یخدرې سړک د سختو بارانونو او سېلابونو له امله ویجاړ او له چکړو ډک شوی و، چې د سیمې اوسېدونکو ته یې جدی ترانسپورتی ستونزې رامنځته کړې وې.

د سیاګرد ولسوالۍ د خلکو د غوښتنې او د ولایت مقام د لارښوونې پر بنسټ، د یاد سړک د پاکولو چارې د یو عراده اسکواټور په وسیله د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۱۶ نیټه رسماً پیل شوې.

د یادونې وړ ده، چې د سړک د پاکولو دغه کار د پروان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له لوری، د ټولګټو ریاست په تخنیکی ملاتړ ترسره شو، چې ډېر ژر به د سیمې د اوسېدونکو ترانسپورتی ستونزې هواري شی.



## د لغمان ولایت په علینګار ولسوالۍ کې د یو استنادی دیوال د جوړولو کار پیل شو





د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه‌الله) د فرمان له مخې، د هېواد په ټولو ولایتونو کې د طبیعی پېښو د خطرونو د کمولو لپاره، هر ولایت ته د یو میلیون افغانیو په ارزښت بودجه ځانګړې شوې ده. دا بېړنۍ کوچنۍ وقایوی پروژې به له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري له لوری پلی کېږی.
د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یاد ولایت علینګار ولسوالۍ په محمد افضل بېله سیمه کې د ۱۰۰۰۰,۰۰۰ (یو میلیون) افغانیو په ارزښت د یو استنادی دیوال د جوړولو کار د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۱۶ نیټه پیل کړ.
د یادونې وړ ده, چې د دی استنادی دیوال کار به په درې میاشتو کې بشپړ شی چې په پایله کې به یې کرنیزې ځمکې او کورونه د سېلابونو له خطرونو څخه خوندی پاتې شی.
ورته مهال, د سیمې خلکو د اسلامی امارت له دغه نیک ګام څخه مننه او قدردانی وکړه.

## په پغمان ولسوالۍ کې د یو استنادی دیوال د جوړولو کار پرانستل شو



د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه‌الله) د فرمان له مخې، د هېواد په ټولو ولایتونو کې د طبیعی پېښو د خطرونو د کمولو لپاره، هر ولایت ته د یو میلیون (۱۰۰۰,۰۰۰) افغانیو په ارزښت بودجه ځانګړې شوې ده. دا بېړنۍ کوچنۍ وقایوی پروژې به له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري له لوری پلی کېږی.
د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یاد ولایت پغمان ولسوالۍ په جندا خېل کلی کې د (۱۷۱,۵۹۰) افغانیو په ارزښت د یو استنادی دیوال د جوړولو کار د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۱۶ نیټه پیل کړ.
د یادونې وړ ده, چې دا استنادی دیوال د (۱۷۱۵۹۰) افغانیو په ارزښت د ۲۳ متره په اوږدوالی, ۱۵۰ سانتی متره پلنوالی, ۳ متره لوړوالی او د ۷۶۰۷ متر مکعب په حجم سره کار یې پیل شو چې د جندا خېل کلی او یو شمېر نورې سیمې او د پغمان ولسوالۍ به د سېلابونو له خطرونو څخه خوندی پاتې شی.
ورته مهال, د سیمې خلکو د اسلامی امارت له دغه نیک ګام څخه مننه او قدردانی وکړه.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لوگر برای ۱۵۳ خانواده مواد غیر خوراکی توزیع نمود



بر اساس هماهنگی سرپرست اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث با مسوولان دفتر یونیسف، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لوگر با حمایت دفتر متذکره، برای۱۵۳ خانواده یتیم و مستحق بعد از سروی مواد غیر غذائی بتاریخ ۱۶ رمضان سال ۱۴۴۶ ه ق توزیع کرد.
در این پروسه با حضور مسوولان به هر خانواده یک بسته صحی توزیع گردید.
باید گفت که این خانواده‌ها از ریاست آمادگی مبارزه با حوادث و دفتر یونیسف بخاطر فراهم آوری و دریافت این کمک‌ها سپاسگزاری نمودند.

## آغاز پاک کاری مسیر دریا در ساحه قریه باریکی قول هیر ولسوالی شینواری ولایت پروان



چندی قبل، مسیر دریای غوربند در ساحه قریه باریکی قول هیر ولسوالی شینواری ولایت پروان به دلیل سیلاب‌های مدهش و تراکم مواد رسوبی تغییر یافته و بسته شده بود که منازل مسکونی، زمین‌های زراعتی و شبکه برق آبی را تحت تهدید سیلاب‌های احتمالی قرار داده بود، کار پاک کاری آن بتاریخ ۱۷ رمضان سال ۱۴۴۶ ه ق آغاز گردید. بنا، بر اساس درخواست ساحه قریه باریکی قول هیر ولسوالی شینواری، در پی این وضعیت، هیئت کمیسیون ولایتی آمادگی مبارزه با حوادث این ساحه را سروی نموده و مبلغ یکصد هزار افغانی از سوی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث برای حل مشکلات آن منظور گردید. براساس هدایت مقام اداره ملی حوادث و حکم مقام ولایت، کار پاک‌کاری این مسیر به منظور کاهش خطرات سیلاب آغاز شد.

قابل ذکر استٍ که در حدود ۱۰۰ متر از این ساحه به پاک‌کاری نیاز دارد و این کار عملاً با استفاده از یک عراده اسکواتور آغاز گردیده است.

## د لوګر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۸۱ بېوزله کورنیو ته غیرخوراکی مرستې ووېشلې

د یونیسف سازمان له مسؤلینو سره له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د سرپرست د همغږۍ پر بنسټ, یاد سازمان د لوګر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ته روغتیایی بستې ورکړې وې, اوس مهال یاد ریاست دا روغتیایی بستې بېوزله او بې سرپرسته کورنیو ته د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۱۷ نیټه ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته ۱۴ قلمه توکی لرونکې روغتیایی بسته ووېشله.

د یادونې وړ ده چې د مرستو ترلاسه کوونکو کورنیو د لوګر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه مننه او قدردانی وکړه.




## د ارزګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۵۸ سېلاب ځپلو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د NRC موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې, د ارزګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالی ملاتړ, د یاد ولایت په دهراوود ولسوالۍاو مرکز ترینکوټ کې د وروستیو سېلابونو له امله ۵۸ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته نغدی د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۱۷ نیټه مرستې ووېشلې.

په دې لړۍکې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته ۱۰,۵۰۰ افغانۍ ووېشل شوې, چې ټولټال ۶۰۹,۰۰۰ افغانۍنغدی پیسې د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوی وې.



## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت اروزگان برای ۲۵ خانواده آسیب‌دیده مواد خوراکی و غیرخوراکی توزیع نمود



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت اروزگان با حمایت مالی سازمان بین‌المللی مهاجرت(IOM) و سازمان جهانی غذا(WFP)، برای ۲۵ خانواده که از اثر سیلاب‌ها اخیر در شهر ترینکوت آسیب‌دیده بودند مواد خوراکی و غیرخوراکی بتاریخ ۱۷ رمضان سال ۱۴۴۶ ه ق توزیع نمود.

این کمک‌ها با حمایت مالی دفاتر IOM و WFP با هماهنگی ریاست آمادگی مبارزه با حوادث آن‌ولایت بعد از سروی با حضور مسوولان توزیع گردید.

## د جوزجان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۷ قلمه خوراکی او غیرخوراکی توکی ۵۴۰ کورنیو ته وویشل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د وارچایلډ موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د جوزجان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالی همکارۍ، د یاد ولایت په ولسوالیو او مرکز کې د وچکالۍ له امله ۵۴۰ اغېزمنو ماشومانو ته ۱۷ قلمه غیرخوراکی توکی د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۱۷ نیټه وویشل.

په دې لړۍ‌کې له ۳۶۰ کورنیو او د هغوی ماشومانو سره په مرادیان ولسوالۍ‌او له ۱۸۰ کورنیو سره په خانقاه ولسوالۍ او مرکز کې دا مرستې ترسره شوې، په دې توکه چې، هر یو ته د ښوونځی بکس، کتابچه، پنسل، پنسل پاک، پنسل تراش، رنګه پنسل، د نقاشۍ کتاب، د رسم کتابچه، د انګلیسی کتابچه، خط کش، د بازی پېرۍ، د بازی توکی، الفبا او اعداد، انځورداره کارتونه، د پخلنځی سیټ، د میوې سیټ او جوس وویشل شول.

## د دایکندی ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۰ زیانمنو او زیانمنونکو کورنیو ته خوراکی او غیرخوراکی مرستې وویشلې




د دایکندی ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د یاد ولایت په مرکز نیلی کې ۲۰ زیانمنو او زیانمنونکو کورنیو ته د اړوندو ادارو د ګډ پلاوی له سروې وروسته خوراکی او غیرخوراکی مرستې د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۱۸ نیټه وویشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته ۲۵ کیلو وریجې او یو روغتیایی کېټ وویشل شو.

## د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۵۴ زیانمنو کورنیو ته نغدي مرستې وویشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري او د DRC موسسې ترمنځ د لاسلیک شوې هوکړې لیک له مخې، د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالي ملاتړ، د یاد ولایت په بهسود، جلرېز او سیدآباد ولسوالیو کې ۵۴ کورنیو ته چې د طبیعی پېښو له امله زیانمنې شوی وې، له سروې وروسته نغدی مرستې د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۱۸ نیټه وویشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته له ۱۰,۰۰۰ نه تر ۱۸,۵۰۰ افغانۍ نغدی مرستې وویشلې، چې ټولټال ۸۳۲,۸۵۰ افغانۍ نغدی پیسې د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوی وې.

ورته مهال، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس مولوی فیض الله جلالی وویل، چې موږ تل هڅه د زیانمنو کورنیو لپاره د لا زیاتو مرستو زمینه برابره کړو او پر وخت هغوی ته رسېدنه وکړو.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت دایکندی برای ۵۶ خانواده آسیب‌دیده کمک‌های، نقدی، خوراکی و غیرخوراکی توزیع نمود

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت دایکندی با حمایت مالی دفاتر IOM, WFP و UNICEF، برای ۵۶ خانواده که از اثر بارندگی‌ها و سرازیر شدن سیلاب‌ها آسیب‌دیده بودند، بعد از سروی کمک‌های نقدی، خوراکی و غیرخوراکی بتاریخ ۱۸ رمضان سال ۱۴۴۶ ه ق توزیع کرد.



در این پروسه با حضور مسوولان از طرف دفتر IOM به هر خانواده مبلغ ۹۵۰۰ افغانی، از طرف دفتر WFP به هر خانواده ۲۰۰ کیلو آرد، ۱۸.۲ کیلو روغن، ۲۵ کیلو دال، ۲ کیلو نمک، ۲.۱ کیلو بسکویت، ۳ کیلو مواد مغذی برای اطفال سوی تغذی و ۶ کیلو مواد مغذی برای مادران شیرده و از طرف دفتر UNICEF به هر خانواده یک بسته البسه زمستانی، یک بسته صحی و یک تخته کمپل توزیع گردید.

## د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ۱۵ شهیدانو ورثه او ټپیانو ته نغدی مرستې وویشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري د سرپرست په لارښوونه، د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د یاد ولایت په بېلابېلو ولسوالیو کې د وروستیو طبیعي پېښو له امله د ۱۵ شهیدانو ورثه او ټپیانو ته له سروې وروسته نغدی مرستې د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۱۸ نیټه وویشلې.

په دې لړۍ کې، له سروې وروسته د سیمه ییزو مسؤلینو په شتون کې د ۹ شهیدانو کورنیو هرې یوه ته ۲۰,۰۰۰ افغانۍ او ۶ ټپیانو هر یو ته ۱۰,۰۰۰ افغانۍ وویشل شوې، چې ټولټال ۲۴۰,۰۰۰ افغانۍ د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوی وې.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بامیان مبلغ ۵,۱۷۶,۶۰۰ افغانی را برای ۱۸۱۰ خانواده آسیب‌پذیر توزیع کرد



بر اساس تفاهم‌نامه‌ای امضا شده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و موسسه خدمات اجتماعی جهان در آسیا(CWSA)، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بامیان با حمایت مالی مؤسسه متذکره، برای ۱۸۱۰ خانواده آسیب‌پذیر و نیازمند در مرکز ولایت بامیان، مساعدت نقدی بتاریخ ۱۸ رمضان سال ۱۴۴۶ ه ق توزیع نمود.

در این پروسه با حضور مسوولان به هر خانواده مبلغ ۲۸۶۰ افغانی توزیع شد که در مجموع مبلغ ۵,۱۷۶,۶۰۰ افغانی برای این تعداد خانواده‌ها اختصاص یافته بود.

## د بادغیس ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۲ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې

د بادغیس ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست, د یاد ولایت په قادس, بالامرغاب, آب کمری او مقر ولسوالیو کې ۲۲ کورنیو ته چې د وروستیو بارانونو او سېلابونو له امله زیانمنې شوي وې, له سروې وروسته خوراکي او غیرخوراکي مرستې د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۱۸ نیټه ووېشلې.



په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته ۵۰ کیلو غنم, ۱ کارتن مکۍ آش, ۳۶ کیلو مکرونی, ۵ کیلو مُمۍ, ۵ تختې کمپلې, ۵ عدده جمپرونه, ۵ جوړه څپلکې, یوه روغتیایي بسته, یوه بسته البسه او ۱ عدد سطل ووېشل شول. همداراز, له یاد شمېر کورنیو څخه یوې کورنۍ ته چې کور یې په بشپړ ډول ویجاړ شوی و یو باب خیمه هم ووېشل شوه.

## د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۲ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې



د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست, د یاد ولایت په مرکز او ولسوالیو کې د طبیعي او غیر طبیعي پېښو له امله ۲۲ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته خوراکي او غیرخوراکي مرستې د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۱۸ نیټه ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته ۷۵ کیلو وریجې, ۵ تختې کمپلې، ۵ تختې توسان, ۵ جوړه څپلکې او ۱ عدد سطل او همدارنګه په یاد شمېر کورنیو کې ۲ کورنیو هرې یوې ته ۵۰ کیلو وریجې, ۵ تختې کمپلې, ۱ عدد سطل, ۳ جوړه څپلکې او ۱ باب کوچنۍ خیمه ووېشل شول.

## د دایکندي ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۳۸۵ کسانو ته د کار په بدل کې نغدي پیسې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د لوږې سره د مبارزې موسسې (AHH) ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې, د دایکندي ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالي ملاتړ, د یاد ولایت په پاتو ولسوالۍ او مرکز نیلي کې ۳۸۵ کسانو ته د کار په بدل کې نغدي پیسې د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۱۸ نیټه ووېشلې.
په دې لړۍ کې, له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رییس مولوی حبیب الله رهنما او د علماوو شورا د استازی په شتون کې هر کس ته ۸,۵۰۰ افغانۍ ووېشل شوې, چې ټولټال ۳,۲۷۲,۵۰۰ افغانۍ د یاد شمېر کسانو لپاره په پام کې نیول شوی وې.

## د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د طبیعي پېښو له امله ۲۷۵ زیانمنو کورنیو ته نغدي او غیرنغدي مرستې ووېشلې



د رازی او RRAA موسسو سره له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د لاسلیک شویو هوکړه لیکونو له مخې، د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادو موسسو په مالي ملاتړ، په بکواه، فراه رود، بالابلوک او ګلستان ولسوالیو کې د طبیعي پېښو له امله ۲۷۵ زیانمنو کورنیو ته نغدي او غیرنغدي مرستې د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۱۹ نیټه ووېشلې.
په دې لړۍ کې، د وروستیو پېښو له امله په بشپړه توګه ۱۳۲ زیانمنو کورنیو هرې یوې ته ۲۰۰ ډالره د رازی موسسې لخوا او ۱۴۳ کورنیو ته چې په نیمه توګه زیانمنې شوې وې، هرې کورنۍ ته د RRAA موسسې لخوا د یونیسف سازمان په مالي ملاتړ ۲ تختې ترپالونه ووېشل شول.

## د هلمند ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د نوزاد ولسوالۍ په علي آباد سیمه کې د اوبو بند د ترمیم کار پیل کړ



د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه‌الله) د فرمان له مخې، چې هر ولایت ته د بیړنیو وقایوي پروژو د پلي کېدو لپاره یې ۱,۰۰۰,۰۰۰ افغانۍ ځانګړې کړې دي، او دا وقایوي پروژې به له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لخوا پلي کېږي. د هلمند ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د نوزاد ولسوالۍ په علي آباد سیمه کې د اوبو بند د ترمیم کار د ۱,۰۰۰,۰۰۰ افغانیو په لګښت د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۱۹ نیټه پیل کړ.
د اوبو دا بند چې مخکې د یاد ولایت مقام لخوا جوړ شوی و, خو ځینې کارونه یې پاتې وو چې اوس مهال له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس الحاج مولوی جمعه خان مستقیم او سیمه ییزو مسؤلینو په شتون کې د اوبو بند د بشپړېدو کار پیل شو.
د دی کار په بشپړېدو سره د بارانونو اوبه په دی بند کې ذخیره او د سیلابونو خطرونه به را کم شي. همدارنګه, د کرنیزو ځمکو لپاره به هم ګټور تمام شي.
د سیمې اوسېدونکو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې له دې اقدام څخه مننه او قدرداني وکړه.

## د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۴ زیانمنو کورنیو ته خوراکی او غیرخوراکی مرستې ووېشلې




د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د همکارو سازمانونو په همکارۍ, د وروستیو واورو او بارانونو له امله ۱۴ زیانمنو کورنیو ته خوراکی او غیرخوراکی مرستې د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۱۹ نیټه ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د خوړو نړیوال پروګرام لخوا, ۱۸.۲ کیلو غوړي, ۲۵ کیلو دال, 2 کیلو مالګه د ماشومانو او مېندو لپاره تغذیوی مواد, او د کډوالۍ نړیوال سازمان لخوا هرې کورنۍ ته د مرستو درې ډوله کېټونه, څراغ او د یونیسف سازمان لخوا یوه روغتیایی بسته ووېشل شوه.

د یادونې وړ ده, چې د مرستو ترلاسه کوونکو کورنیو له دې ګام څخه خوښی څرګنده او د یاد ریاست له همکارۍ یې مننه وکړه.

---

## د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د بهسود او دایمیرداد ولسوالیو د تړل شوې لارې د خلاصولو کار پیل کړ

څه موده مخکې، د میدان وردګ ولایت لومړۍ بهسوډ او دایمیرداد ولسوالیو نښلوونکی د تیزک او کجو سیمو ۵۰ کیلومتره سړک، چې د زیاتې واورې ورېدو له امله د خلکو د تګ راتګ پر مخ بند شوی و او د خلکو لپاره یې زیاتې ستونزې رامنځته کړې وې.




د دې ستونزې د حل په موخه، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د سرپرست په لارښوونه او د یادې ادارې له لورې په ځانګړې شوې بودجې، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ټولګټو چارو ریاست په همغږۍ د واورې پاکولو چارې د ټولګټو چارو ریاست د ماشینرۍ په وسیله د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۱۹ نیټه پیل کړې او ټاکل شوې، چې همدا نن ورځ به یاده لاره د تګ راتګ پر مخ خلاصه شی.

---

## د دایکندی ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۴۹۱ کسانو ته د کار په بدل کې نغدی پیسې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د لوړې سره د مبارزې موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې, د دایکندی ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالی ملاتړ, د یاد ولایت په مرکز نیلی کې ۴۹۱ کسانو ته د کار په بدل کې نغدی پیسې د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۲۰ نیټه ووېشلې.

په دې لړۍ کې, د طبیعی پېښو د خطرونو کمولو په برخو کې د یاد شمېر کسانو د فعالیتونو له بشپړېدو وروسته هر کس ته ۸,۵۰۰ افغانۍ ووېشل شوې, چې ټولټال ۴,۱۷۳,۵۰۰ افغانۍ نغدی پیسې د یاد شمېر کسانو لپاره په پام کې نیول شوی وې.

## د جوزجان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د فیض‌آباد ولسوالۍ د سیندد شکن تحکیماتي پروژه پیل کړل



د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه‌الله) د فرمان له مخې، چې هر ولایت ته د بېړنیو وقایوي پروژو د پلي کېدو لپاره یې ۱,۰۰۰,۰۰۰ افغانۍ ځانګړې کړې دي، د جوزجان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د فیض‌آباد ولسوالۍ د سیند د تحکیماتو چارې د ۱,۲۰۲,۰۰۰ افغانیو په لګښت د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۱۹ نیټه پیل کړل.


د دې پروژې د بنسټ کېښودو مراسم د جوزجان ولایت والي، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس او سیمه‌ییزو مسوولینو په شتون کې ترسره شول.

یاد شکن، چې د ۱۴۰۳ هـ‌ش کال د پسرلني سېلابونو له امله ویجاړ شوی و، تر تحکیم وروسته به د سېلابونو له راوتلو او له زیانونو څخه به یې د هستوګنیزو کورونو او کرنیزو ځمکو ساتنه وکړي.

یاده پروژه د ۱۶ متره په اوږدوالي، ۵ متره پلنوالي او ۱۰ متره په لوړوالي د سنګکارۍ او ګبیونکارۍ چارې لري، چې د جوړولو لپاره به یې ۴۸۰ مترمکعبه زینه یي ډوله ډبرې وکارول شي.

د سیمې اوسېدونکو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې له دې اقدام څخه هرکلی وکړ او د دې پروژې په پلي کېدو کې یې د هر ډول همکارۍ ژمنه کړې.


## د بلخ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۷ قلمه خوراکي او غیرخوراکي توکي ۳۶۰ کورنیو ته ووېشل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د وارچایلډ موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې, د بلخ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالي همکارۍ, د یاد ولایت په چمتال ولسوالۍ کې د وچکالۍ له امله ۳۶۰ اغېزمنو ماشومانو ته ۱۷ قلمه خوراکي او غیرخوراکي توکي د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۲۰ نیټه ووېشل.

په دې لړۍ‌کې له ۳۶۰ کورنیو او د هغوی ماشومانو سره دا مرستې ترسره شوې, په دې توګه چې, هر یو ته د ښوونځي بکس, کتابچه, پنسل, پنسل پاک, پنسل تراش, رنګه پنسل, د نقاشۍ کتاب, د رسم کتابچه, د انګلیسي کتابچه, خط کش, د بازۍ پړی, د بازۍ توکي, الفبا او اعداد, انځورداره کارتونه, د پخلنځي سیټ, د میوې سیټ او جوس ووېشل شول.

## د بدخشان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۵۲ زیانمنو کورنیو ته نغدي او غیرنغدي مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د اکتید موسسې ترمنځ د هوکړه لیک له مخې، د بدخشان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالي ملاتړ، د یاد ولایت په یفتل پایان ولسوالۍ او مرکز فیض آباد ښار کې ۵۲ زیانمنو کورنیو ته نغدي پیسې، ساختماني توکي او کاري وسایل د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۲۰ نیټه ووېشل.

په دې مرستو کې د هرې کورنۍ لپاره د تشناب او حمام جوړول شامل دي، او د هرې کورنۍ لپاره ۴۰۷۰ افغانۍ ځانګړې شوې وې، چې ټولټال ۲۱۱,۶۴۰ افغانۍ هغوی ته ووېشل شوې. همداراز، هرې کورنۍ ته ۱۰ قلمه ساختماني توکي او ۸ قلمه کاري وسایل ووېشل شول.

## د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ماین چاودنې پېښې له امله ۵ ټپیانو ته نغدی مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د DRC موسسې ترمنځ د هوکړې لیک له مخې، د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالی ملاتړ، د ماین چاودنې پېښې له امله ۵ ټپیانو ته نغدی مرستې د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۲۰ نیټه ووېشلې.

په دې لړۍ کې هر ټپی شوی کس ته د هغه ټپ ته په کتو، له ۳۳،۰۰۰ نه تر ۳۴،۰۰۰ افغانۍ نغدی پیسې ووېشل شوې، چې ټولټال ۱۶۶،۵۰۰ افغانۍ د یاد شمېر کورنیو لپاره په پام کې نیول شوې وې.

## د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۴۳ زیانمنو شویو کورنیو ته د غیر خوراکی توکو مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د موف موسسې ترمنځ د هوکړې لیک له مخې، د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالی ملاتړ ۱۴۳ کورنیو ته د غیر خوراکی توکو مرستې د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۲۰ نیټه ووېشلې، چې پکې د بکوا ولسوالۍ ۱۲۹ کورنۍ د فراه رود ولسوالۍ ۱۱ کورنۍ او د بالابلوک ولسوالۍ ۳ کورنۍ تر پوښښ لاندې نیول شوې وې.

د مرستو په دې پړاو کې، هرې کورنۍ ته یوه تخته کمپله، یوه تخته ترپال، یوه روغتیایی بسته او یوه د OMHM بسته ووېشل شوه.

**عامه پیغامونه :**

**27. هره کوچنۍ پروژه چې په کم لګښت ترسره کېږي، د کلي خلک دې حکومت او موسسو ته نه په تمه کېږي، بلکې په ګډ کار (حشر) او انداز سره دې د هغې پروژې کار ترسره کړي**

**28. عام المنفعه کارونه بشپړول، د یو ریښتیني مومن ځانګړتیا ده**

**29. مخکې له دې چې بېلابېل مرضونه ستاسو باغونه او کروندې له منځه یوسي، په کمې درملنې سره یې د مرضونو مخنیوی وکړئ**